**محمد اسحــــاق برکت**
ورجنیا ـ ۱۸ سپتمبر ۲۰۰۹


عیـد سعید فطر را بــه همه هموطنان عـزیز داخـل و خارج کشور، کارکنان پورتال معزز (۱۰۱ـ ۱۰۱)، شاعران و نگارندگان و خصوصاً استاد گرامی و جلیل القدر فخرالشعراء "اسیر "، دوست گرامی و شاعـر ملی و مبارز نعمت الله جان مختارزاده ، جناب ناظم باختری ، جناب للندری صاحب وسائر شعـرئی که با اشعار نغـز و رنگین ایشان صفحات پُورتال دایم مزین گـردیده ، بـرگ سبز تحفهٔ درویش گفته عیدی گویا تقدیم میدارم ؛چه کند بینوا همین دارد.

## اخــتـری

******

زما درنــــــو او محترمو شاعـرانو ، لیکوالانـو
د(برکت) خو نور څه نشته دا لنډۍ ډالۍ کوینه

******

## افغان پـښتنه پېغله

اخـــتر خـو راغـی یــــــار را نـه غی
په لاس ګنډلی دستمال به چاته ورکومه

******

کــه یـــار داختر پـه ورځ را نـه غی
نو ګلبخمل کمیس به چاته واغوندمه

******

ستا دا پيمان ووچې اخترکې به دې وينم
بد قوله ياره اوس به څه ورم پېغورونه

******

اخـــترخـــو هــر چـا تـــــه اخـتر دی
ماته اختردی چې مې يار کورته راځينه

******

ستــرګې بــه تــورې کـــړم اختـــر کې
يار مې پوه نه شي چې ما ډېر ژړ لېدينه

******

پـــه لاس بــه پــورې کـــړم نکـــريځې
چې ګلبدن سره مې جوړکړي ځراغونه

******

اختر کې بـــه څــه نــــه وايمـــه يار ته
چې مورمې کړيدي په ما باندې ظلمونه

******

چې مساپر وې ما به ډېر ، ډېر يادولې
اختر ته راشه چې مې لېرې شي غمونه

******

اخترتـه راشه چې زه ډېردرپسې ژاړم
دناز خندا به پـــه پا لنګ درتـــه کومـه

******

اختـــر تـــه راشـــه دعاشقی کيسې دې ډېـــــــرې
چې سردې کېښود په مړوند بياکيسې درته کومه

******************************

**داختر شهيدان**

اخـتره راغـــلې بيـــا را نـــه شـــــې
يار مې بندي دی په وطن سر ورکوينه

******

کـــه د وطن پـــه لار شهـيـد شـــوې
زه به داخترپه ورځ په قبرګلان شيندمه

******

کـه د اخـتر پـــه ورځ شهيد شـــوې
نــوترکيامــته بــه دې خلک يا دوينـه

*******

د اختر پـــه ورځ سنگر پـري نه ږدي
غليم ډارن دی بيا به پرېږدي سنگرونه

******

اخــتر پـــــه هـغـــه چـا اخـــتر دی
چې ستا په وينويې سره کړي دي لاسونه

******

اختر ، اختر دی دحاکمانو او ظالمانـو
چې پـــه پـردو ډُول يې اچـولي اتـنونه

******

دغـريبـا نـــو بــه څــه اخــتر وي
په دوی به اوري د بمونو بارانونه

*******

يـــارانـــو گـورئ خپه نه شئ ( برکت ) نه
هـرشی به هېرکړي ، پښتودرس نه هېروينه